المطیعون
عبادالله المطیعون

بسم الله الرحمن الرحیم

# المطیعون کتابتون

## د هر ډول کتابونو ستر مرکز

**ټلګرام** ته راشئ او له **المطیعون کتابتون** چینل سره یوځای **Join** شئ او له بېلابېلو کتابونو څخه ګټه واخلئ.

زمونږ د واټساپ شمېره:
+۹۳ ۷۷ ۴۳ ۴۲ ۲۰۸

د چینل لینک:
@AlmoteoonLibrary

# د قرآن کریم د وقوفو رموز(نښې)



ترتیب کوونکی:

عبــــاداللّٰه المطیعــــون

بسم الله الرحمن الرحيم

# دقرآن کریم دوقوفو رموز (نښې)

- دهرې ژبې ویونکي چه کله خبرې کوي نو چیرته دریږي او چیرته نه دریږي، کله ډیر او کله لږ. ایسار یږي او په دې ودریدو او نه دریدو کښې دخبرې پوره بیان او مفهوم کښې ډیر لوی دخل دی.

دقرآن کریم معجز کلام او عبارت هم دوېنا په ډول واقع دی. له دغه وجې نه أهل علمو د دریدو أو نه دریدو نښې (علائم) مقرر کړي دي چه هغې ته دقرآن مجید دوقوفو رموز وائي.

ضروري خبره ده چه د دې عظیم کتاب لوستونکي د دې رموزو پوره خیال وساتي أو هغه رموز دا دي.

○ - چیرته چه خبره پوره شي هلته کښې وړه غوندې دائره وي، دا په حقیقت کښې غونډه (ت) ده چه د (ة) په هیئت کښې لیکلې شي او داد وقف تام علامه ده په دې باندې دریدل پکار دي، اوس ة خونه شي لیکلې مګر وړه غوندې حلقه اچولې شي دې ته آیت وائي.

م - داد وقف لازم علامه ده په دې باندې هرومرو (خامخا) دریدل پکار دي أو که چیرې څوک ونه دریدو نو احتمال

لری چه دخبری مطلب به بل څه شی د دی په پښتو ژبه کښې داسی مثال پوهیدل پکارده چه چاته و ویلی شی ،
(پاسه - مه کینه) چه پکښې د پاسید و امر او له کینا سـتو نهی ده نو په - پاسه - باندی دریدل لازم دی اوکه چیری متکلم ونه دریدنو مخاطب به داسی وګڼړی چه ( پاسه مه - کینه) چه په هغه کښې به د ودریدو نه نهی اودکینا سـتود امر احتمال کیګی او یقیناً دا به د قائل د مطلب خلاف وی.

ط - دا د وقف مطلق علامه ده په دی باندی دریدل پکاردی دا علامه هلته وی چه کوم ځای مطلب نه پوره کیګی او ویونکی مزیده همڅه وینا کول غواړی .

ج - دا د جائز وقف علامه ده دلته کښې دریدل غوره او نه دریدل جائز دی .

ز - دا د مجوّز وقف علامه ده دلته نه دریدل غوره دی .

ص - دا د مرخّص وقف علامه ده دلته پیوست ( یوځای ) لوستل پکاردی لیکن که چیری څوک ستړی شی او ودریګی نو هغه ته اجازه شته ،
معلومه شوه چه په (ص) پیوست لوستل د (ز) په نسبت ترجیح لری

صلے - دا د اَلْوَصْلُ أَوْلیٰ (یعنی وصل غوره) اختصار دی دلته پیوست لوستل غوره دی .

ق ـ داد قِيلَ عليه الوَقف خلاصه ده دلته دريدل پكار نه دى.

صل ـ داد قَدْ يُوْصَلُ علامه ده دلته كله ودريدى شى او كله نه ليكن دريدل غوره دى.

قف ـ داد قِفْ لفظ دى چه معنى ئى ده ودريږه او دا علامه هلته استعماليږى چه دلوستونكى دپيوستى ويلو احتمال وى.

س يا سكته ـ داد سكتے علامه ده دلته لږ وخت دريدل پكاردى خو چه تنفّس باقى وى (يعنى ساماته نه شى).

وقفه ـ دا د اوږدى سكتے علامه ده دلته دسكتے په نسبت ډير دريدل پكاردى ليكن چه تنفّس جارى وى (يعنى ساماته نه شى) په سكته او وقفه كښى دا فرق دى چه سكته كښى لږ وخت او په وقفه كښى ډير وخت ودريدى شى.

لا ـ دلا معنى چه نيشته دا علامه كله خو دآيت پورته وى او كله دعبارت دننه كه دعبارت دننه وى نو دريدل بالكل نه دى پكار او كه دآيت پورته وى نو بيا اختلاف دى.
دځينو په نزد دريدل او دبعضو په نزد نه دريدل روادى خو كه څوك ودريږ يا و نه دريږ په دى سره مطلب كښى څه خلل نه واقع كيږى وقف هلته نه دى پكار چه د عبارت دننه ليكلى وى.

ك ـ داد كذٰلك علامه ده يعنى چه كوم رمز (نښه) دى ك نه

وړاندې لیکلی شوی ده دلته کښې دې همغه وګڼړلی شي.

۵ ـ دا ددې علامه ده چه په دې ځای دغیر کوفیینو په نزد آیت ده که چا وقف وکړ نو دا عادې (دوباره ویلو) ضرورت نیشته.

∴ ـ دا د دریو ټکو (نقطو) وقف نژدې نژدې راځي دې ته معانقه ویلی شي کله خو ددې اختصار په مع سره لیکلی شي. ددې مطلب دا ده چه دا دواړه وقفونه لکه چه معانقه کوي او حکم ئې دا ده چه په دې دواړو وکښې په یو باندې دریدل پکار دې په بل نه او په وقف کښې د رموز و (نښو) قوت او ضعف ملحوظ ساتل پکار دې.

**پای**

**ستاسې د دعاګانو محتاج**

**عبادالله المطیعون**